# اخون ځالاک: د درویزه ادبي مکتب د یو نثر نګار غړي په حېث

# Akhun Salak as Prose Writer of the Darweza School of Thought

Badrul Hakim Hakimzai [1], Shahab Akber [2]

Akhun Salak is known in the Pukhtoon's history as worrior and writer. He used sword for spreading of Islam and at the same time wrote many books for the moral and ethical reform of Pukhtoon nation. He was the follower of Akhun Darwezza's school of thought and wrote Masaja Nasar/Article in his elegance. This article sheds light on his prose skills as well show affiliation with Akhun Darweza School of thoughts. Indeed, this will open new arenas of research for the students of Pushto Literature.

د اخون درویزه بابا ادبي مکتب یو شمېر لیکوالانو تر ډېرې مودې پاللے دے ـ په دغو لیکونکو کښې ورومبے صاحب دیوان شاعر او نثرنګار اخون میاداد دے او ورپسې اخون قاسم ، بابو جان ، اخون احمد، ابراهیم ، حلیم ، ابراهیم ، اخون ملاغېرت او نور دي چې نوموړي مکتب ته ئې دوام ورکړے دے ـ ددغه لړۍ یو نامتو لیکونکے اخون ځالاک ترین هم دے ـ بي بي مریم وائي چې اخون ځالاک "د خان علیین مکان او د شاه جهان همعصر وۀ۱ "

## د اخون ځالاک تېریزه پېژندګلو

د اخون ځالاک د خانداني شالید پحقله میراحمد شاه رضواني لیکي :

'اخون سالاک صاحب کا تعلق دراصل ترکستان سے ہے اور اخون سباک ان کے بھائی ہے۔۲

په دې حواله عقاب خټک لیکي :

1 Lecturer Pakhtunkhwa Study Centre Bacha khan University Charsadda
2 M. Phil Scholar Pakhtunkhwa Study Centre Bacha khan University Charsadda

پیر سباک برادر پیر چالاک کے بزرگوں کا اصلی وطن بخارا تھا۔ وہاں سے اٹھ خوست آئے۔ اور مشکوہ کے قریب سکونت اختیار کی۔ چند پشتوں تک وہاں رہے تو پھر بعض بلند خیل، بعض کوہاٹ چلے گئے اور بعض اکوڑہ کے قریب جابسے۔ لیکن بعض اصلی وطن خوست میں رہے۔ ۳

دا خبره د پاملرنې وړه ده چې په بونېر، شانګله او تورغر کښې په سلګونو کورنۍ په اخون خېلو نومېږي ـ دوي ځانونه د اخون سالاک او اخون سباک اولاد ګڼي ـ د دوي سره خپله د نسب شجره هم شته ـ دوي په نوموړو ضلعو کښې لوے لوے جائیدادونه لري ـ په کوریا بونېر کښې د اخون سالاک دوه د استوګنې کورونه هم موجود دي ـ په دغه کورونو کښې د اخون ځالاک توره او کتې هم پراتهٔ دي ددغو شهادتونو په مرسته لیاقت خان شمعون ئې پېژندګلو داسې کوي :

باباکا اصل نام جناب اکبر شاہ صاحب تھا اور عرفِ عام میں اخون سالاک، ملا سالاک اور اخون باباکے ناموں سے پہچانے جاتے تھے۔ نسبی لحاظ سے مشہور افغان قبیلہ ترین سے تعلق رکھتے تھے۔ قبیلہ ترین میں ان کا تعلق درانی شاخ سے تھا آپ کی پشتوں سے گاؤں کوریا علاقہ چملہ تحصیل مندنڑ بونیر کے باسی تھے۔ آپ کی ولادت گاؤں کوریا میں قیاساً ۱۰۷۸ء میں ہوئی اور ٦٠٨ اء میں کابل گرام ضلع شانگلہ میں اس دار فانی کو خیر باد کہہ گئے۔ ۴

د اخون ځالاک کورنۍ د زړو سواتیانو یو ټبر وهٔ ـ زاړهٔ سواتیان هغه خلک دي چې کله محمود غزنوي په ۱۰۰۰ء کښې د افغانستان له بېلا بېلو سیمو نه د بېلا بېلو قبیلو د وګړو لښکر راټول کړو او دغه لښکر د پیر خوشاب په مشرۍ کښې په سوات او شا و خوا سیمو قبضه اوکړه ـ مقامي حکمران راجه ګیره ماتې اوخوړه او د هغه د قلمرو زمکې د پیر خوشاب لښکرو په خپلو کښې اوویشلې ـ

چونکہ یہ لوگ ایک قبیلے سے متعلق نہیں تھے۔ اس لئے اجتماعی شناخت کے لئے سوات میں رہائش کی مناسبت سے ''سواتی'' کے نام سے موسوم ہوئے۔ ان لوگوں کے لئے آج کل ''زوړ سواتے''یعنی قدیم سواتی کی اصطلاح مستعمل ہے۔5

د ۱۵۰۰ء شا و خوا چې د ملک احمد په مشرۍ کښې یوسفزي دې سیمو ته راغلل نو سلطان اویس ته ئې ماتې ورکړه او د هغه رعایا زاړهٔ سواتیان ئې شانګلې، مانسهرې، تهاکوټ، بټه ګرام او باجوړ ته شړونکي کړل ـ د زړو سواتیانو ځینې کورنۍ په خپلو خپلو ځایونو کښې پاتې شوې او هجرت

ئې اونۀ کړو ـ د اخون څالاک کورنۍ هم هجرت نۀ دے کړے او په خپل پلارني ټاټوبي بونېر کښې پاتې شوې ده ـ

اخون څالاک د علم په زده کړه بوخت شو او کله چې اوزګار شو نو د ډوما خلاف د جهاد کولو اراده ئې اوکړه ـ ډوما یوه ترک نژاد غېر مسلم قبیله وه چې د بونېر په چغرزو او چکیسر وغېره کښې آباده وه ـ اخون څالاک د جنګ لپاره لښکر ترتیب کړو ـ په دې جهادي مهم کښې د اخون څالاک سره د هغه مشر ورور اخون سباک اخلاقي مرسته شامله وه ـ باکو خان یوسفزے ئې هم ملاتړ وۀ ـ د شانګلې کابل ګرام ئې خپل جهادي مرکز اوګرځاوۀ او ډوما قبائیل ئې د شکست سره مخامخ کړل ـ افضل خان خټک لیکي :

" اخون څالاک ـ ـ ـ ـ ـ ـ په سبب د حادثاتو یوسفزو ته لاړ ـ هور ته ئې له غازیانو سره جهاد کاوۀ ـ هغه مکان ئې په سبب د غزا خوښ شو-٦ "

لنډه دا چې اخون څالاک په قبیله ترین ، د کوریا بونېر اوسېدونکے ، د خوشحال خټک همعصر، او مجاهد سړے وۀ ـ په کال ۱۵۷۸ء کښې زېږېدلے او په کال ۱٦۵۸ء کښې مړ دے ـ قبر ئې د ضلع شانګلې په کابل ګرام کلي کښې موجود دے ـ

## د اخون څالاک فکري تړون

اخون څالاک یو منلے عالم ، دینپوه او صوفي وۀ ـ لیاقت شمعون وائي: "طریقت میں سیدعلی ترمذی عرف پیر بابا اور اخون درویزه کے مرید تھے ـ ۷ "

د پښتو کلاسیکي دورې نامتو شاعر حافظ الپورۍ ئې د اخون درویزه د زوي اخون کریمداد سره یو ځاے د غازي په توګه ستائي چې د دواړو نومړو د فکري تړون ترجماني کوي لیکي :

یو عالم وے بل شهید شوے
عجیبه در فرید شوې
د کانجو میا کریمداده
ما نیولې لمن ستا ده

اے ولي اخون څالاکه
په ظاهر په باطن پاکه
مدام کړې دې غزا ده
ما نيولې لمن ستا ده ۸

عبدالاحد شاه ئې د پير بابا د نوسي عبدالوهاب عرف ميا عبدل بابا مريد بولي ، ليکي :

''اخون سالاک میاعبدل باباکے مرید تھے۔9''

محمد شفيع صابر ليکي :-

''سید عبدالوہاب نے ۔۔۔۔۔ کفارِ کوہستان کے خلاف جہاد کی مہم کا انتظار کیا۔ اس جہاد کی قیادت اخون سالاک نے کی۔10''

جميل يوسفزے هم دغه خبره تائيدوي ليکي :

'' په کوهستان کښې ئې د پير بابا او اخون درويزه صيب د اولاد سره اوږه په اوږه غزاګانې کړې دي۱۱ ـ''

پروفيسر محمداختر ئې د اخون پنجو سره ملګرتيا په ډاګه کوي ، ليکي :

''اخون سالاک پیر پنجو کی اجازت سے شمالی کوہستان کے کفار کے خلاف جہاد کے لئے روانہ ہوئے۔ پیر نے دعا فرمائی، ساتھ ہی گھوڑا اور خنجر عطا کیا اور ہدایت کی کہ وہ شیخ رحمکار سے بھی مدد حاصل کرے۔ جنہوں نے ایک مرید جمیل بیگ آپ کے ساتھ بھیجا۔12''

سنکروال هم ددې دعوې ملاتړ کوي او ليکي چې : '' اخون څالاک د اخون پنجو مريد وۀ۱۳ ''

اخون څالاک هم ددغه فکري غزون له مخه يو شمېر شاګردان وروزل ـ ددۀ په مريدانو کښې بابو جان ،اخون محمد يونس، ملامست زمند او حليم د يادونې وړ نومونه دي ـ اثر افغاني ليکي :- '' د اخون څالاک په مريدانو کښې بل مشهور مريد د شاه ډهنډ بابا دے۱۴ ـ ''

د پیر بابا او اخون درویزه د اولاد سره همغاړے د غیر مسلمو سره جنګیدل ، دا اخون پنجو او رحمکار کاکاصیب سره دوستي ، د درویزه د ادبي مکتب منلي پیروکار بابو جان او حلیم ددغه مریدان جوړیدل او حافظ الپوری له خوا اخون کریمداد او اخون ځالاک یو ځاے ستائیل دا حقیقت جوتوي چې د اخون ځالاک فکري او تصوفي تلګ لاره هم هغه ده چې سر ئې پیر بابا ، درویزه بابا ، اخون پنجو او رحمکار کاکا صیب اېښے دے او په باوري توګه ئې ادبي مکتب هم هاغه دے چې سر لار ئې درویزه بابا دے ـ

## د اخون ځالاک ادبي او علمي زیار

د ډوما غیر مسلمو خلاف د جهاد او د پښتنو د علمي او اخلاقي ښوؤنې او روزنې لپاره اخون ځالاک د قلم نه هم سم کار اخستے دے ـ هغه د دین د تبلیغ او د اولس د ذهن سازۍ لپاره د درس و تدریس تر څنګه یو شمیر کتابونه هم اولیکل ـ روشن خان لیکي : " ان کے تصانیف میں فتاویٰ عربیه ، بحر الانساب ، غزویه اور مناقب زیاده مشهور تهیں۱۵ـ "

د عربۍ او فارسۍ دا لیکونه ئې د وخت په دوړو کښې پټ دي او لا تر اوسه مخې ته راغلي نهٔ دي ـ خو له نیکه مرغه د پښتو نثر یوه ټوټه ئې د پښتو اکیډیمۍ په کتابتون کښې په اندراج شمیر ۱۱۰۱ خوندي ده ـ دا د کښو لیکوالانو مجموعه ده چې په مخ ۲۲۰ ئې د اخون ځالاک لیک هم خوندي کړے دے ـ زلمے هیواد مل ددې ټوټې په یادولو سره زیاتوي: " کله چې ما د ځالاک دا بیان ددهٔ له خپل نامه سره په دې جونګ کښې اوموند ، نو بیا راته څرګنده شوه چې ددې بیان یوه بله نسخه د هند د رامپور په رضا لائبریرۍ کښې په ۳۹ نومره قید مجموعې په لسو پاڼو کښې خطاطي شوې ده ـ خو هلته ئې د مولف نوم څرګند نهٔ دے۱٦ ـ "

د نجوړ په توګه ډاکټر عبدالوحید خان لیکي :

"اخون سالاک گنتی کے ان افراد میں شامل ہیں جو صاحب سیف و قلم تھے۔ وہ بیک وقت جنگ و قتال، سیاسیات اور ادبیات سے وابستہ رہے۱۷ ـ"

## د اخون ځالاک د نثر بیلګه

د پښتو اکېډيمی د کتابتون په اندراج شمېر ۱۱۰۱ خوندي شوې نسخې د اخون ځالاک د پښتو نثر يوه ټوټه چونکۍ د خروار په بېلګه رانقلول غوره ګڼم ـ

” واورئ مومنانو دا خبر ګورے په دا رنګۍ معلومېږي ـ مومنان لکه ورګډ شي په بهشت کښې ، پر اسونو به سوارۀ شي ، د هر مومن په سر به تاج وي چې دنيا ترې پورې هېڅ نۀ ځرګندېږي ـ هم به حورې ، فرشتګان ، غلامان وي ، ددۀ رکاب نيولے ، د خاکي ادم به هسې خدمت کېږي ـ په اول حصار چې ورشي ، دے د سپينو زرو روغ دے ، پهنائي به ئې د يونسو کاله لاره وئيل کېږي ـ په صافۍ کښې هسې صاف دے چې درون بهشت بيرون ترې ځرګندېږي ـ “

## د درويزه د ادبي مکتب پيروکاري

د اخون ځالاک دا ليک د اسلوب او موضوع دوارو له خوا د درويزه د ادبي او فکري مکتب ښکارندوي کوي ـ ځکه ئې له دغو دوارو خواؤ کتنه ضروري ده ـ

**اسلوب**

د يو ليکوال د اسلوب د ځانګړتيا ټاکلو لپاره بايد اوکتے شي ـ چې نومورے اديب يو بيان په کوم انداز وړاندې کوي ـ کوم ټکي راټولوي او څنګه ئې پرله پورې کوي ـ جملې څنګه رغوي او څنګه ئې لړۍ په لړۍ کوي ـ د وينا تال او چال ئې د څۀ ډول دے ـ که يو ليکوال ځان ته د پېشکش يوه ځانګړې کړنلاره غوره کړي نو دا د هغه اسلوب ګڼلے شي ـ دغه ليک ډول چې د خوښېدو په اساس نور ليکوالان خپل کړي ـ هم په دغه انداز خپل ليکونه ليکي او ددغه اسلوب پلويان د يو ټولګي ځاندره غوره کړي نو بيا ورته فکري او ادبي مکتب وئيلے شي ـ د شکل له مخه د اخون درويزه ، د هغۀ د ادبي پېروکارو او اخون ځالاک په نثر کښې د پام وړ يو شانتوب تر سترګو کېږي ـ دا خبره هېڅ شک نۀ لري چې د نيم منظوم يا هنري نثر د بنسټ تيږه د پير روښان خېرالبيان ږدي او د درويزه مخزن پرې يوه دنګه وداني اودروي ـ دا هم مخزن دے چې د وزم ، وزن او اهنګۍ خيال ساتي او د قافيې کارېدنه هم ګټور کار بولي ـ تر دې چې ليکونه ئې د نثر نه زيات نظم ته ورته دي او د

نیم منظوم نثر په نامه نومېږي ـ دغه نظم ته ورتوالي ئې ډاکټر زبېر حسرت دې ته اړ کړے دے چې مخزن یو منظوم لیک اوګڼي ـ د بېلګې په توګه ئې یو څو جملې را اخلم چې اخون څالاک ئې پېروي کړې ده ـ

**د درویزه نثر**

دا بهشت دوزخ موجود دي ، هم باقي له خپله اهله چې فنا پرې نۀ رغېږي ـ که د مومن له لاسه لوے لوے ګناه اوشي نۀ کافر کېږي ـ نۀ به اووځي له ایمانه څو حلال ئې نۀ ګڼېنه، ولې خلاف خوارجي کا ، دوي وائي په ګناه سړے کافر شي ، د حضرت رسول په دین کښې په دغه وئیيه به ښوئېږي ـ خداے لکه کرم کا بې له شرکه به له نورو ګناهونو چې ئې خواست وي دے جمله عاصي بې غم کا ـ هر ګناه که صغیره یا کبیره وي د عاصیانو چې کرم ئې په خداے باندې ښائېږي ـ۱۸

**د کریم داد نثر**

سکه بایده دي مومنانو ، هر څوک مټ پر ښۀ وکانئ ، چرې نۀ وي تر ابده وکهیږي ـ دے مې توان هسې لرینه ، هر چې دے کا هغه کېږي ـ له اوبو کا صورتونه ـ له اسمانه بارانونه ، رنګا رنګ ګیاه اوګوره چې له زمکې زرغونېږي۱۹ ـ

**د بابو جان نثر**

هغه خلق چې په قهر د څښتن یاد شي ورکېږي ـ بد خویونه په لاس واخلي چې نېکان پرې زهیرېږي ـ په څو ځل ئې خلقه هلاکه کړې ، لا ېخوا په بد خویونو ـ دوي به پرېښو د خداے امر ، فقیران به ئې ازار کړۀ ، ګناهونه ئې هم ډېر له لاسه کېږي بد دعا به فقیرانو ته ورته اوکړه ـ له اسمانه به بلا شوه پرې نازله ـ چې دعا د فقیرانو د څښتن په در قبلېږي۲۰ ـ

که ددې ټوټو تر څنګه د اخون څالاک د نورنامې یوه ټوټه کښېښودے شي نو د لیک ډول هېڅ توپېر نۀ ننداره کېږي ـ لکه :

څوک د سرو څوک د جوهرو ، د هغو ځیني له حقیقته نۀ خبرېږي ـ او په هره سراې کښې اویا زره کوټې دي د ګوهرو ـ شب چراغ چې نورونه ئې ځلېږي ـ بیا په هر کوټ کښې اویا زره تختونه

دي د زرو ، دا هم واړه د مومن دپاره کېږي ـ په هر تخت باندې اويا زره فراش دي غوړولي ـ هم اويا زره د خام ابريشم بالښتونه پرې جوړېږي ـ پر هغو دپاسه حورې دي پرې ناستې چې کوڅۍ ئې پر جوهرو مرصع دي ، هم جامه ئې دبهشت ورته اغوستې ـ غه جامه ئې اويا زره رنګه کېږي ـ اے عزيزه د هغو حورو ښائست څۀ رنګ ډېر وائي که يو کت ئې اشکاره کا ودنيا ته ، ملک به هسې روښنائي شي چې تر قيامته به بيا شپه نۀ پېدا کېږي۲۱ ـ

د اخون درويزه ، اخون کريمداد ، بابو جان او اخون ځالاک د نثري ټوټو په ننداره کولو دا حقيقت جوتېږي چې :

(۱) ددغو ټولو ليکوالانو نثر مسجع او مقفٰی دے ـ (۲) د څلور واړو ټوټو جملې اوږدې دي ـ (۳) ټول له عربۍ او فارسۍ ژبو څخه ښۀ ډېر ټکي د خپلو نثرونو برخه جوړوي ـ (٤) ټول د پښتو ژبې د سوچه ټکو د خوندي کولو تابيا کوي ـ د اسلوب دا يو شانتيا ئې په ډاګه کوي چې اخون ځالاک د درويزه د ادبي مکتب غړے دے او د هغه د ايجاد کړي هنري نثر پالونکے دے ـ

## موضوع

د درويزه بابا ادبي مکتب له طريقت څخه زيات شريعت تبليغولو ته پام وراګرځولے دے ـ د دوي په ليکونو کښې د تصوفي افکارو پالنه شوې ده خو دغه ئې ورومبے مقصد نۀ دے ـ ياده دې وي چې خپله درويزه بابا د طريقت او شريعت تر څنګه نور هم ډېر موضوعات چېړلي دي ـ لکه تاريخ ، د وخت ټولنيزې پېښې ، د مقدسو شخصياتو نمانځنه ، عقيدوي اختلاف او داسې نور ـ خو د اخون ځالاک په ليک کښې ددغو موضوعاتو قدرداني نۀ تر سترګو کېږي ـ په موضوعاتي توګه چې کوم يو شانتوب د دوارو نومورو ليکوالانو په ليکونو کښې ښکاري هغه (۱)د دواړو ليکونو نثر علمي او تبليغي اکر لري (۲) دواړه ليکونکي شريعت او فقه حنفي تبليغوي (۳) دواړه ليکوالان د وګړو اخلاقي روزنه کول غواړي ـ

د پائلې په توګه دا وئيل اسانېږي چې اخون ځالاک يو هنري او قافيه وال نثر ليکونکے دے ـ د اخون درويزه د ادبي مکتب غړے دے او د هغه د ايجاد کړي نثر پالونکے او غزونکے دے ـ

## ماخذونه


۱: بي بي مریم ، د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جائزه ، پېښور ، جدون پریس ، ۱۹۸٦ء ، مخ ١٥٤
۲: رضوائي میراحمد شاه ، تحفة الاولیاء ، لاهور ، مقید عالم پریس ، ۱۳۲۱هـ ، م ۳۱
۳: خټک عقاب ، پیرسباک ، پشاور ، بار اول ، ۱۹٦٤ء ، ص ٥٩
۴: شمعون لیاقت خان ، اخون سالاک ، بونیر ، ۲۰۱٦ء ، مخ ۹۲
۵: *حکیمزے بدرالحکیم، سوات میں انتہا پسندی کے چند محرکات، سوات، مشال پشتو ٹولنہ، ۲۰۱۵ء، ص*
٦: خټک افضل خان،تاریخ مرصع ، مرتبه : دوست محمدخان کامل مومند ، پېښور ، یونیورسټي بک ایجنسي ، ۱۹۷٤ء ، مخ ٥٩٤
۷: شمعون لیاقت خان ، اخون سالاک ، بونیر ،ص ۹۳
۸: حافظ الپوری ، دیوان حافظ الپوری ، مثالي شرح ، قاضي غفران الدین ، پېښور، اسلامي کتب خانه قصه خواني، ۱٤۱۹هـ ، مخ ٦۳
۹: نقشبندي ، سید عبدالاحد شاه ترمذي سیفي ، تذکره سادات ترمذي ، لاهور، الوثاق ، اردو بازار ، دویم ایډیشن ، ۲۰۱۳ء ، ص ۱۲۱
۱۰: صابر محمد شفیع ، حیات پر بابا ، بار اول ، ۱۹۸٦ء ، ص ١٦٨
۱۱: یوسفزے جمیل ، اخوند څالاک څوک وؤ ، مقاله : مشموله درې میاشتنۍ پښتو ، پښتو اکېډیمي ، پېښور پوهنتون اکتوبر ۲۰۱۱ء ، مخ ۱۲۲
۱۲: *محمد اختر، پروفیسر، تاجک سواتی و مملکت گبر، ایبٹ آباد، سرحد اردو اکیڈیمی، اردو نگر، باراول، مارچ ۲۰۰۲ء، ص ۵۹*
۱۳: نیازي شهسوار سنګر وال ، د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ ، پېښور ، د احمدشاه ابدالي پوهنتون ، ۱۹۹۷ء ، مخ ۲۰۸
۱۴: افغاني عبدالحلیم اثر ، روحاني ترون ، باجوړ پاکستان و دارالاشاعت ، س ن ، مخ ٥٠٥
۱۵: *خان روشن خان، یوسفزئ قوم کی شر گزشت، کراچی نمبر ۲، پھول چوک، جونا مارکیٹ، روشن خان اینڈ کمپنی، اشاعت اول، ۱۹۸٦ء، ص ۵۹*
۱۶: هېواد مل زلمے ، سرمحقق ، د پښتو نثر اتۀ سوه کاله ، لاهور ، مطبع ملت پرنټرز ، ۱۹۹٦ء ، مخ ۲۰۰
۱۷: *خان عبدالوحید، پروفیسر ڈاکٹر، اخون سالاک میری نظر میں، تبصره، مشموله اخون سالاك، لیاقت خان شمعون، جنوری ۲۰۱٦ء، ص ۷*
۱۸: اخوند درویزه ، مخزن ، مدونه ، سیدتقویم الحق کاکاخېل ، پېښور ، پښتو اکېډیمي ، پېښور یونیورسټي ، اول ځل ، ۱۹٦۹ء ، مخ ۳۷
۱۹: همدغه اثر ، مخ ۱٤۱

۲۰: بابو جان ، قلمي نسخه ، مملوکه ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، اندراج شمېره ۹۲ ، ٤۸ ، ۱۳۹
۲۱: اخون ځالاک ، قلمي نسخه ، مملوکه ، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون ، اندراج شمېره ۱۱۰۱